
لنډه کیسه
Ketabton.com
په تار
د رواجو
لیکوال : واجد منگل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تار د رواجو

**لیکونکی: واجد « منګل »**

**ترتیب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

د شنو وښو دروند پنډ يې له سره کښته کړ، غټ اسويلی يې وايست، په مخ را څوړند تور ويښته يې په ټيکري کې د ننه ايستل. د تېز لمر له امله يې خولو په مخ لارې جوړې کړې وې.

وروسته څو ګامونه وړاندې لاړه، غوا ته يې چې وړوکی خوسی څټه، اخور کې تازه واښه ور واچول. غوا اخور ته نيږدې شوه، د کلا په دروازه يو بوډا سړی را ننوت، نجلۍ ژر د غوجلې د دېوال سيوري ته پټه شوه.

بوډا د کوټو ته جوړې چوترې ته رسېدو کې په ډډ غږ وويل:

ـ جانداده مبارک شه!

يو دنګ ځوان له کوټې را ووت، خندل يې، په نا باورۍ يې وويل:

ـ کاکا ټوکې خو به نه کوې؟ څنګه راضي شول؟

بوډا په ږيره لاس تېر کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا مې لمر ته نه ده سپینه کړې!

بیا یې لاسونه سر ته پورته کړل، په ژېړه لونګۍ کې یې شمله نېغه ودروله، په خندا یې وویل:

ـ داسې کیسې دې کاکا ته اسانه دي. شرط مې ورسره ومنلو. هغوی را نه ستا خور خپل زوی ته وغوښته او ما ومنله.

نجلۍ نېژدې وه چې له خولې یې چغې ووځي، له پښو یې ځمکه لاړه، د غوجلې په دېوال ور ړنګه شوه.

یوه ښځه له پخلنځي را ووته، تر شا یې یو دولس کلن ماشوم هم ور پسې وو.

ښځې په زوره سپین ږیري سړي ته چیغه کړه:

ـ زه مې خپله لور یو نشه یي ته نه ورکوم. رب دې تا سره....

ځوان ښځې ته مخ کړ، په تندي کې یې ګونځې پیدا شوې، په خشکه (غوسه) یې خبره ور بنده کړه:

ـ مورې! ته زما خوشحالي نه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمر پخه ښځه په ژړا کې ببرته پخلنځي ته ننوته...

چوپتيا وه، ليرې د انګړ يو کونج کې چرګې له خپلو کوچنيو چورګوړو سره د ونې لاندې سيورې ته څه خوړل.

ښه شيبه وروسته ماشوم د دېوال خوا ته ګامونه واخېستل، مخې ته يې د يو بنيادم سيورى جوړ شو، پاس يې وکتل، نجلۍ وه، په خوشحالۍ يې وويل:

ـ لالا ته يې ښځه وکړه.

نجلۍ لکه يو بې روحه تابوت، غلې ولاړه وه. له غټو سترګو يې کوچنۍ اوښکې وڅڅېدې، په ورو انداز يې غريو کې وويل:

لالا مې خپل ارمان پوره کړ!

زه يې په تار د رواجو تړلې يمه!

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یادونه!

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شریک کړئ.**

**فیسبوک: Wajid Mangal**

**واټساپ: +4368864664143**

**ایمېل: wajidmangal2003@gmail.com**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**